Paschtu

داد ستاني هامبورگ

بست بکس ۳۰۵۲۶۱
۲۰۳۱۶ هامبورگ

# يادونه

## دحکم د تعميل په اړه په قسط جريمه تحويلول

ستاسو په وړاندې به جريمه تطبيق شي. برسېره پردې، د پروسې لګښتونه او که اړتيا وي، د وصول لګښت هم بايد تحويل شي. که تاسو نشئ کولی ټول جريمه په يوه ځل تحويل کړئ، امکان شته چې د جريمې تحويلول په قسطونو منظور شي. په استثنايي حالتونو کې د جريمې تحويلول په لنډمهاله ځنډيدلای شي.

ددې کار لپاره بايد د هامبورګ څارنوالۍ ته د ددوسيې د شمارې په يادولو سره غوښتنليک ورکړل شي.

د غوښتنليک په اړه پريکړه کولو لپاره، تاسو بايد د خپلو مالي شرايطو په اړه معلومات ور کړئ او د اړونده اسنادو کاپي ور واستوئ. اصلي رسيدونه به تر کتنې وروسته بيرته تاسي ته ستانه شي.

لږ تر لږه بايد د لاندې ټکو، په اړه معلومات ورکړه شي:

- مياشتنی عوايد تنخوا \ مزدوری او يا د ټولنيزو د مرسې په اړه خبر ليک او يا نور دولتی مرستي
- نور عايد (د بيلګې په توګه د دوهمې دندې څخه)
- هر ډول د لګښت مکلفيتونه

**د دې معلوماتو او رسيدونو پرته به د جريمې سهولتونه يعنې قسطونه منظور نه شي**

په هرصورت، دلته لا دمخه ټينګار کيږي چې د قسطونو تحويلول بايد د يو جدي بد حالت په توګه وليدل شي او بايد په شخصي توګه ستاسو د موجود اقتصادی امکانات څخه په خورا سپما سره ورکړه شي. په ژوند کې محدوديتونه - حتی د بيکارانو لپاره او د ټولنيزو ګټو ترلاسه کونکي لپاره - د مقننه قوې لخوا ټاکل شوي او بايد ومنل شي. ستاسو په ګټه، د جريمې تحويلول بايد ستاسو مطلق لومړيتوب وي.